EUROPEAN UNION ELECTION OBSERVATION MISSION TO AFGHANISTAN
Presidential and Provincial Council Elections 2009
ماموریت نظارت اتحادیه اروپا برای انتخابات درافغانستان
د افغانستان دټولټاکنو لپاره د اروپايئ اتحاديئ دڅارنی ماموريت

**مطبوعاتي څرګندونې، د اګست ۲۶ مه، ۲۰۰۹**

د اګست په ۲۰ مه د ولسمشرۍ او ولايتي شوراګانو ټاکنې افغانانو لپاره د هغو چا پر وړاندې په برياليتوب ترسره شوې چې د دې بهير د نه ترسره کېدو لپاره يې د ترهګرۍ عملونو په ترسره کولو کې کوښښ کاوه.

بايد ووېل شي، دا له امکانه لرې ده چې بهير دې بشپړ وګڼل شي، او لکه د ټاکنو په قانون کې چې راغلي، د دې ټاکنو وروستۍ پايلې يوازې هغه مهال د باور وړ دي چې د اړوند چارواکو لخوا تصديق شي.

په هغه ناامنه چاپېريال کې چې دا ټاکنې ترسره شوې د قانون دا شرايط معقول او حتا ډېر اړين دي. په دې ناامنه چاپېريال کې ډېرو بې اصولو، او بې لارو ملاتړ کوونکو په لوړه يا ټيټه کچه په درغليو کې ونډه اخيستې.

په دې اړه، په لومړي پړاو کې د يو او بل نوماند لخوا د برياليتوب دعوې بې اعتباره دي. دا د ټاکنو خپلواک کميسيون پورې اړه لري - چې د ټاکنو د شکايتونو د کميسيون څخه د سپارښتنو په اخيستو به د نيمګړتياوو په سمون لاس پورې کوي.

د اروپايي ټولنې د ټاکنو د څارنې ماموريت به د بهير تر پای ته رسېدو پورې اړونده ادارو ته د خپلو سلاوو/ مرستو د برابرولو لړۍ جاري وساتي.